# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے



## شهزاده شپون
## شو

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: M. Maillot; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: E. Frischbutter; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2023 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرخولے نهٔ شئ.


يوه ورځ موسی يو مصرے وليدو چې
عبرانے غلام يې وهلو. حالانکې د
موسی تربيت او پالنه هم د
فرعون په محل کښې لکه د
يو شهزاده په شان شوے
وو. خو بيا هم
هغه يو عبرانے
وو او هغۀ د
غلام مدد
کول غوښتل.

موسی ځلورو واړو طرفونه ته وکتل چې څوک هغه وینی
خو نه، او د غلامانو په هغه ظالم مشر یې حمله وکړه. په
هغه جنګ کښې موسی هغه مصرے مشر ووژلو او موسی
زر تر زره هغه دفن کړو.



په بله ورځ موسی دوه عبرانیان په خپلو کښې په جګړه ولیدل. هغهٔ د هغوئ د خلاصولو کوشش وکړو. په هغوئ کښې یو ووئیل، ولې تهٔ به ما هم د هغه مصری په شان څوک چې تا وژلے دے. وژنې څهٔ؟ موسی ویرېدو، او څهٔ چې هغهٔ کړی وو نو د هغې په باره کښې ټولو ته پته ولګېده. فرعون هم د دې نه خبر شو. اوس موسی له د هغه ځائ نه تښتېدل وو.

هغه د میدیانیانو ملک ته لاړ.



کله چې موسی د کوهی په خوا کښې آرام کولو، نو د میدیان
د امام اووهٔ لونړو راغلې چې خپلو ګډو او چېلو د پاره یې
ترې نه ښانکونه ډک کړل.



نورو شپونکو د هغوئ د وروسته کولو کوشش وکړو.
موسی د هغه جينکو مدد او ساتنه وکړه.





د جينکو پلار د هغوئ نه تپوس
وکړو. تاسو نن دومره زر کور ته
واپس ولې راغلئ. کله چې هغه
جينکو پلار ته ټوله خبره
وکړه نو د هغوئ پلار
ووئيل هغه سړے دلته
ما خواته راولئ چا

چې ستاسو مدد وکړو.



موسی هلته په تلو ته راضی
اوهغه سړی ته به یترو هم وئیلے
کېدو. بیا وروسته موسی د هغهٔ
مشرې لور صفوره
سره وادهٔ وکړو.


په مصر کښې فرعون مړ شو. او
د خدائ پاک خلق عبرانیان له تر
اوسه پورې غلامان وو. او هغوئ
ډېر زیات خفه وو او فریاد یې
کولو.
او هغوئ
مالک خدائ نه د مدد د پاره
دعا وغوښتله. او خدائ پاک
د هغوئ دعا واورېدله.

موسی نۀ وو خبر خو خدائ پاک د هغه
علامانو عبرانیانو د مدد د پاره منصوبه
جوړه کړه. څلویښت کاله شوی وو چې
موسی مصر پرېښودے وو. د یترو
د رمو شپونکے وو. خو هغۀ به په
مصر کښې خپل خلق يادول.



یوه ورځ موسی ولیدل چې
هغې سره نږدې په یوه جاړې
باندې اور لګېدلے دے.



هغه ووئیل چې عجیبه خبره ده
چې اور سره جاړه ولې نۀ سوزی.
موسی د دې معلومولو کوشش وکړه
چې دا ولې داسې کیږی.



کله چې هغه نزدې ورغلو. نو خدائ پاک هغۀ له آواز
ورکړو، موسی ووئیل مالکه زۀ حاضر یم. خدائ پاک هغۀ
ته ووئیل چې جاړې له نزدې مۀ ورځه. او خپلې څپلی
وباسه ځکه کوم ځائ چې تۀ ولاړ یې نو دا پاک دے.




خدای پاک هغهٔ ته وفرمائیل چې زهٔ مصر ته
فرعون خواته لیږم چې تهٔ خپل خلق د مصر
نه راوباسې. خو موسی
هلته تلو نه ویرېدو.

نو بيا خدائ پاک موسی ته خپل لوئ طاقت وښودلو. او د هغهٔ د موسی امسا په مار بدله کړه.



چې کله موسی هغه مار د لکۍ نه اوچت کړو نو هغې نه بیا امسا جوړه شوه. او خدائ پاک هغهٔ له یوه بله نښه هم ورکړه.



خدایٔ پاک هغهٔ له حکم ورکړو چې خپل لاس په خپله سینه باندې کیږده. او موسی هم هغه شان وکړل. او د هغهٔ لاس د څرمنی په بیماریٔ بدل شو. او لکه د واورې په شان تک سپین شو.



او چې کله هغهٔ دوباره داسې وکړل نو د هغهٔ
لاس واپس ټیک شو.



خو موسی ته تر اوسه پورې اعتراض وو. هغهٔ خدائ پاک
ته ووئیل، چې زهٔ صفا خبرې نهٔ شم کولے. خدائ پاک د
هغهٔ نه خفه شو او ورته یې ووئیل چې زهٔ به ستا ورور
هارون ستا د خبرو د پاره استعمال کړم.



موسی یترو خواته لاړو، او خپل سامان
يې وتړلو او د مصر ته روان شو.



خدایٔ پاک د موسی ورور ته لار
ښودنه وکړه. چې په غر باندې
موسی سره ملاو شی. موسی
هارون د خدایٔ پاک د منصوبی
په باره کښې ووئیل چې عبرانیان
خلق د مصریانو نه
آزاد کړی.



دوئ د عبرانیانو مشرانو له خبر
ورکړو. کله چې موسی د
عبرانیانو مشرانو ته نښې
وښودلې، نو هغوئ پوهېدل چې
خدائ پاک به د دوئ مرسته کوی.
دوئ ټولو په جمع
د خدائ پاک
عبادت وکړو.



هارون او موسی بنۀ په زړور تیا سره
فرعون له لاړل. او هغوئ هغۀ ته ووئیل،
خدائ پاک
وائی چې
زما خلق
پرېږده.



فرعون هغوئ ته په جواب کښي ووئيل چې
زۀ دا اسرائيليان نۀ پرېږدم. هغۀ د خدائ پاک
حکم نۀ منلو. خدائ پاک له د
فرعون د ذهن
بدلولو د
پاره خپل
طاقت
استعمالول
په کار
وو.



شهزاده شپون شو

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

هجرت 2-5

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ."

زبور 130:119

ختم شو

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوي چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمي او په
سولئ خپل ځان قربان کړي.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ
ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲